# د خره بچی



Lindiwe Matshikiza
Meghan Judge
Zahidullah Abid
3
پښتو ps



يوې وړې نجلۍ ته په لرې فاصله کې يو شکل تر سترګو شو.



خومره چې شکل رانیږدي کېده، هغې ولیدل چې دا یوه امیدواره ښځه ده.



وړه جلۍ ډېره زړوره وه. میرمنې ته ورنږدې شوه، ویې ویل، "دا ښځه باید مور له ځان سره یوسو" خلکو هم ومنله او زیاته یې کړه، "چې میرمن او ماشوم باید خوندي ځای ته یوسو."



میرمن حامله وه او بچی ېې د زیږیدو په حال کې و، په عاطفي بڼه ېې ویل، "ویششش!!!" "کمپله راوړئ!!!" "اوبه راوړئ!!!!"



کله چې هغوی ماشوم ولیده، نو ټول حیران شول او شاته یې ټوپ کړ چیغه یې کړه. "وای خر؟!"



خلکو خپل منځ کې خبرې کولې، ويل یې چې د میرمنې او ماشوم سمه پالنه به وکړي، خو د دوی د غوښتنې برعکس ټول حیران و. ځینو ویل دا به مور ته بدبختي راوړي.



ښځه بیا یوازې شوه، حیرانه وه چې د نوي زیږیدلي بچي سره څه وکړي او ځانته هم په اندیښنه وه چې چیرته لاړه شي.



خو بالاخره هغې ومنله چې هغه د هغې ماشوم او دا د ده مور ده.



د ښځې نوي زيږيدلي بچي وده وکړه ، او دومره لوی شو چې نور د میرمنې وس نه و چې په شا يې وګرځوي. څومره چې يې کوښښ وکړ د انسان په څير يې چلند نه شو کولای، خو مور به ډيره ستړې وه. کله کله به يې دې ته وهڅوه چې ځيني کارونه ترسره کړي.



. خر ډیر وارخطا او غوصه و. تل به يې مور ورسره جګړه کوله. دا نه شې کولای، کار دې زده نه دی، بلاخره یوه ورځ خر غوصه شو او مور يې په ځمکه ووهله.



خر ډېر زيات شرمېده. او لرې يو ځای ته وتښتېده.



. کله چې ودرېده، ګوري چې توره شپه ده. اواز يې وکړ، وېې انګل، خو يوازې خپل غبرګ يې بيرته اورېده. يو ګوښه ځای خملاسته او په ژور خوب ویده شو.



کله چې له خوبه راویښ شو، په یو نابلد بوډا سړي یې سترګې ولګېدې چې ده ته په ځیر ځیر سره ګوري. هغه د زاړه سړي سترګو ته وکتل او د امید احساس یې پیدا شو.



خر له بوډا سره د یو ځای اوسېدو په موخه روان شو، بوډا او خره له یو بل څخه ډیر څه زده کړل، او له یو بل سره به یې مرسته کوله. دوی په یوځای اوسیدو کې خوشحاله وو.



یو سهار بوډا له خره ښخه وغوښتل چې هغه د غره سر ته ورسوي.



په لوړه د وريځو په منځ کې دواړه ويده شول. خره خوب وليده، چې مور يې ناروغه ده او ده ته غږ کوي. کله چې خر له خوبه راويښ شو ...



... وريځې نه وي او ملګرى يې "زوړ سړى" هم نه معلومېده.



خر یه پای کې پوه شو چې باید څه وکړي.



خر خپله مور ولیدله چې یوازې وه او د خپل ورک شوی ماشوم په غم کې یې ژړل. دوی یو بل ته په ځیر ځیر وکتل. بیا یې یو بل په غېږ کې ونیول.



. خر او مور يې چې مخکې يې د ګډ ژوند تجربه درلوده، اوس له يو بل سره خوښ و، او د وخت په تېرېدو سره د دوی تر څنګ ډېرو نورو کورنيو هم ژوند پيل کړ.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## د خره بچی


Lindiwe Matshikiza
Meghan Judge
Zahidullah Abid


CC BY